
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر دویمه | ٦۳۹مه ګڼه

کتاب

۴ مخ

## بریالی کېدای شم



په دې کتاب کې کولای شی ډېر هغه (کولای شم) ولولی چې مخکې مو په خپل زړه او ذهن کې درلودل خو پر مټ یې د پرمختللو، لوړ ختلو او پوهېدلو لپاره له خنډونو او لوړو ژورو یوه تشه لاره جوړه کړئ؛ خو جرئت او وړتیا مو یې نه درلوده.

## کرنې وزارت: په هرات کې روان کال ۲۰۰ ټنه شات تولید شوي دي



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، چې په هرات کې د شاتو د تولید سږنۍ کچه ۲۰۰ ټنو ته رسېدلې ده.
د یاد وزارت ویاند اکبر رستمي رسنیو ته ویلي چې د هرات په کچه د شاتو د مچیو ۵۹۳ فارمونه فعالیت لري چې له یادو فارمونو سږ کال ۲۰۰ متریک ټنه شات تولید شوي دي.
هغه زیاته کړې چې په دغه ولایت کې کال په کال د شاتو مچیو روزنې فارمونه زیاتېږي.
د نوموړي په خبره، د دغه ولایت پر مرکز سربېره، په انجیل، گذرې، کرخ، رباط سنگي، غوریان، ادرسکن، پښتون زرغون، اوبې، چشت شریف، شینډنډ او گلران ولسوالیو کې تر نورو ډېر شات تولید شوي دي.
د یادونې ده چې په هرات کې دوه ډوله شات شته چې یو غرنې بولې او بل یې د فارمونو دي. غرنې شات غوره کیفیت لري چې په کورنیو بازارونو کې د یوه کیلو بیه له ۷۰۰ تر زرو افغانیو ده.

# خونړی میاشت؛

## د لومړي مرستیال له مسوولیت سره هممهاله هم، کابل ښاریانو ارامه ورځ نه لرله



۳

د استرالیایي ځواکونو د افغان شریکانو وجدانونه لا هم ارام دي!

۲ مخ

په گڼه د بشر د گډ برخلیک ټولنه جوړوو او لا ښکلې نړۍ به اباده کړو

۲ مخ

د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

۳ مخ

## ایران: په افغانستان کې روان تاوتریخوالی د اندېښنې وړ دی

ایران یو ځل بیا ژمنه کړې چې د افغان سولې په پروسه کې به هر اړخیزه همکاري کوي.
د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر د ایران د بهرنیو چارو له وزیر جواد ظریف سره د سیمې پر روان وضعیت ټلیفوني خبرې کړې او نوموړي ډاډ ورکړی چې په دې برخه کې پوره همکارۍ ته چمتو دي. ظریف دغه راز په افغانستان کې وروستی تاوتریخوالی هم د اندېښنې وړ بللی او هیله یې څرگنده کړې چې د سولې روان مذاکرات ژر تر ژره یوې پایلې ته ورسېږي.
په ورته مهال حنیف اتمر هم په دې ټلیفوني مکالمه کې ویلي چې د افغان سولې په تړاو د سیمه‌ییزې اجماع د پیاوړي کولو په برخه کې د ایران هڅې د ستایلو وړ دي. اتمر دغه راز د ایران د اټومي انرژۍ پر رییس وروستی برید هم غندلی او په وینا یې، د افغانانو په استازیتوب د خپلې خواخوږۍ مراتب له ایراني وگړو سره شریکوي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې څه مودې وړاندې هم ایران ته د مصالحې د عالي شورا د مشر عبدالله عبدالله د سفر پر مهال، د یاد هېواد چارواکو نوموړي ته ډاډ ورکړی و چې دوی به د افغان سولې په برخه کې پوره همکاري وکړي.

وحید عمر:

## طالبان د ډېر امتیاز ترلاسه کولو په موخه پر جگړه تمرکز کوي



۲ مخ

## جیم گولبی: سیاست های نادرست ترمپ باعث ناتوان شدن حکومت افغانستان شده است



جیم گولبی محقق شورای اتلانتیک امریکا، سیاست های ناروشن دونالد ترمپ را سبب جسور شدن طالبان و ناتوان شدن حکومت افغانستان می داند. وی زیر عنوان «ترمپ وضعیت بد را در افغانستان بدتر می کند» یک مقاله یی نیز نوشته کرده است که در آن در باره وضعیت بد افغانستان از سیاست های نادرست ترمپ پرده برداشته است.
این محقق می گوید که با وجود اطمینان دهی مکرر زلمی خلیلزاد از مشروط بودن خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، طالبان هرگز مطابق انتظار پنتاگون و سران ارتش های ناتو عمل نکردند.
به گفته او ترمپ و مایک پومپیو، رئیس جمهور غنی را زیر فشار قرار دادند تا به طالبان امتیازهای غیر ضروری بدهد اما به باور او، در برابر این امتیازها، هیچ چیزی به دست نیامده است.
او براین باور است که مانورهای ترمپ همچنان رئیس جمهور غنی را ضعیف کرده است و در حالی که واشنگتن با طالبان مذاکره کردند، ترمپ و مایک پمپئو رئیس جمهورغنی را فشاردادند تا امتیازهای غیرضروری به طالبان بدهد اما درمقابل هیچ چیزی به دست نیاورد. جیم گولبی نوشته است: «مانورهای ترمپ همچنان رئیس جمهور غنی را ضعیف کرده است، در حالی که طالبان را به عنوان یک شریک مذاکره معتبر قانونی می داند. ترمپ و مایک پومپیو، به جای کمک به غنی درحل اختلاف های سیاسی داخلی او را زیر فشار قرار دادند تا امتیازهای غیر ضروری به طالبان بدهد اما هیچ چیز درمقابل آن به دست نیاورد.»

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د استرالیايي ځواکونو د افغان شریکانو وجدانونه لا هم ارام دي!

په دې وروستیو کې په افغانستان کې د استرالیايي ځواکونو له خوا د شویو جنایتونو په اړه بحثونه ګرم شوي دي. استرالیايي ځواکونو په اروزګان کې د خپل ماموریت پر مهال ګڼ بې ګناه خلک چې پکې ښځې، ماشومان او سپین ږیري هم شامل دي، ځورولي، شکنجه کړي، بندیان کړي او وژلي دي. د استرالیايي ځواکونو د جنایتونو رسوایۍ آن ځو استرالیايي پوځیان ځان وژنې ته اړ کړل او په نړیواله کچه یې غوغا جوړه کړه. اوس د دغو جنایتونو د یوه تصویر خپرولو د چین او استرالیا ترمنځ لفظي شخړه راپورته کړې او پرون بیا یوې بلې نړیوالې رسنۍ هم د دغو جنایتونو نوي تصویرونه خپاره کړي وو.

د استرالیايي ځواکونو افشا شوي جنایتونه ربښتیا هم زړه بوږنوونکي دي. دا یوازې افشا شوي جنایتونه دي، خو ښایي ډېر به لا همداسې پټ پاتې وي. د اروزګان کلی کلی او کور کور د استرالیايي وحشي پوځیانو د جنایتونو شاهد دی. دوی هلته هر ډول جنایت کړی، دوی د خپلې ساتېرۍ او مسخرو لپاره خلک وژلي دي. د خلکو ځورول، وهل، وژل او جنایت د دوی لپاره د خوند او لوبو یوه لاره وه. دوی داسې کارونه کړي چې که ټول پسې مستند شوي وای، نو ښایي د نړۍ د جنګي جرمونو او جنایتونو په تاریخ کې به دا یو ډېر لوی څپرکی وای.

دا یوازې استرالیايي ځواکونه نه دي، بلکې افغانستان ته ټولو راغلو بهرنیو ځواکونو همداسې جنایتونه او وحشتونه کړي دي. امریکایي، برېټانوي، جرمني او نورو بهرنیو ځواکونو په افغانستان کې د جنایتونو ریکارډ ټینګ کړی دی. دوی ممنوعه وسلې کارولي، انسانان یې سوځولي، پوره کلي یې ړنګ کړي او خلک یې وژلي دي، انسانان یې پر سپیو داړلي، په ځاګانو کې یې اچولي، تر ټانګونو لاندې یې کړي، دیوالونه یې پرې ور نړولي، په کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو یې افغانان وژلي او سوځولي او د روحي شکنجې لپاره یې په مسلسل ډول د هغوی دیني ارزښتونو او مقدساتو ته توهین کړی دی. د دوی د دغو جنایتونو په اړه اسناد او شواهد هم شته، البته دا اسناد او شواهد د ځینو پېښو دي او د ډېرو پېښو اسناد او شواهد لا هماغسې پټ پاتې دي.

په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو جنایتونو د نړیوالو وجدانونه ولړزول، خو په افغانستان کې ځینې وجدانونه لا هم ارامه دي. دلته ځینو چارواکو او سیاستوالو دا هر څه نه یوازې اورېدلي، بلکې ځینې یې لیدلي او په ځینو کې دوی شریک هم دي. د بهرنیو ځواکونو دغو جنایتونو ته د دوی غبرګون ډېر سوړ دی او آن دا ورته مهمه نه ده. دوی په راتلونکې کې هم د دغو جنایتونو د مخنیوي غږ نه کوي او آن په یو ډول یې د دوام لپاره هلې ځلې کوي. دوی د بهرنیو ځواکونو د وتلو مخالفت کوي او غواړي چې دا وحشي ځواکونه همدلته پاتې شي، جګړه وکړي او همداسې جنایتونه او وحشتونه وکړي. له همدې امله د سولې مخالفت کوي او لا هم د جګړې، وینو او وژنو خبرې کوي. دا کسان له خپل ولس سره په دښمنۍ کې له ټولو پولو اوښتي او د وحشي، جنایتکاره او مجرمو بهرنیو ځواکونو ملګري، د جرم شریکان او ملاتړي دي. دوی او بهرني ځواکونه دواړه، په یو ډول مسوول دي او باید حساب او کتاب ورسره وشي.



# په ګډه د بشر د ګډ برخلیک ټولنه جوړوو او لا ښکلې نړۍ به اباده کړو

لیکنه: وانګ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

د چین د دولت رییس شي جین پینګ د نومبر له ۱۷مې تر ۲۲مې پورې د بریکس د پنځو هېوادونو، اپیک سازمان او د شلو لویو صنعتي هېوادونو په غونډو کې ګډون وکړ او د دغو دریو ډګرونو په اړه یې په ٦ مهمو غونډو کې ٦ مهمې ویناوې وکړې او ۲۳ مهم وړاندیزونه، غوښتنې او تدبیرونه یې وړاندې کړل. رییس شي جین پینګ د سولې او پرمختګ د وخت موضوع پر اساس او د تېرو سلو کلونو حالاتو ته په کتو، د یادو دریو سازمانونو په تاریخي موجودیت رڼا واچوله او خپلو خبرو کې یې دې ته اشاره وکړه، چې د یووالي پر مټ کولی شو چې خپلمنځي همکارۍ او ګډې ګټې تر لاسه کړو. د څو اړخیزم له لارې د نړۍ سوله او ارامتیا ساتلی او د همغږي او پرمختللي چاپیریال د ابادولو له لارې نړۍ ته نیکمرغي رسولی شو.

د چین او نورو برخه والو خواوو د ګډو هلو ځلو په رڼا کې د مشرانو څو اعلامیې، د بریکس هېوادونو د اقتصادي همکارانو ستراتیژي(۲۰۲۵) او د ۲۰۴۰ کال لپاره د اپیک سازمان د پوتراجیایا امید په ګډون، څو مهم سندونه خپاره شول چې د چین دریځونه، غوښتنې، پوهه، ځیرکتیا او فکرونه ترې څرګندېږي او د نړیوالو لوړه ستاینه یې تر لاسه کړې ده.

مونږ د کرونا وبا پر وړاندې ګډه مبارزه کوو او د نړۍ بېلا بېل هېوادونه یو له بل سره مرسته کوي.

رییس شي جین پینګ خپلو خبرو کې دې ته اشاره وکړه، چې کرونا وبا یوه لویه ننګونه ده او د نړیوالې حکومتوالۍ نیمګړتیاوې یې په ګوته کړې دي. اوس د نړۍ بېلابېل هیوادونه د کرونا وبا د دویمې او درېیمې څپې تر اغېزې لاندې راغلي او د نړۍ د عامې روغتیا سیستم یې له جدي ازموینو سره مخ کړی دی. ټول هیوادونه باید د دې ناروغۍ پر وړاندې مبارزې ته لومړیتوب ورکړي او د بشر د ګډ برخلیک ټولنې رویه باید په پام کې ونیسي، یو اړخیزم، پروټکشنیزم او زورواکي باید پرېږدي، د وبا پر ضد د مبارزې نړیوالې همکارۍ باید پیاوړې او د بشر د ژوند امنیت او روغتیا لپاره باید هر اړخیز خدمتونه وکړي.

لومړی؛ مونږ باید د کرونا وبا پر ضد د نړیوالې مبارزې د مخنیوي دېوال جوړ کړو. مختلف هېوادونه باید لومړی خپل کارونه ښه تر سره کړي او پر دې اساس دې نړیوالې همکارۍ زیاتې کړي او نورو هېوادونو ته دې د همکارۍ لاسونه وغځوي. ډېرو هیوادونو اوسمهال د واکسین په تحقیق او تولید کې مثبت پرمختګ کړی، نو د روغتیا له نړیوال سازمان څخه باید ملاتړ وکړو، څو د واکسینونو عادلانه او مؤثرې توزیع لپاره سرچینې همغږې او خپلې چارې تر سره کړي. چین د واکسین نړیوالې همکارۍ کې فعال ګډون او ورڅخه ملاتړ کوي او د «کرونا وبا واکسین تطبیق پلان» کې یې فعال ګډون کړی دی. چین به خپلې ژمنې پوره کړي، د افغانستان په ګډون پرمختیایي هیوادونو ته به مرستې چمتو کړي او ملاتړ به ورڅخه وکړي او هڅه به وکړي چې د کرونا وبا ضد واکسین عامه تولید وګرځوي، څو د ټولو هیوادونو عام وګړي ترې هر ځای او هر وخت ګټه واخلي.

دویم؛ مونږ باید خلکو ته لومړیتوب ورکړو او لاسونه سره یو کړو او په یووالي د نړیوالو ننګونو پر وړاندې مقابله وکړو. بېلابېل هېوادونه باید د خلکو ژوند ته لومړیتوب ورکړي او تر وسې پورې باید د خلکو د ژوند امنیت او روغتیا وساتي. څوک باید د کرونا وبا حالاتو ته سیاسي رنګ ور نه کړي، کومه خوا باید بدنامه نه کړي، خپل مسوولیت باید ادا او نړیواله همکاري باید خرابه نه کړي. په عین وخت کې، بېلابېل هیوادونه باید د بې وزلۍ د له منځه وړلو تدبیرونه هم ونیسي، د نړیوال پرمختګ لپاره دې لا مساوي او عادلانه دوستانه اړیکې جوړې کړي او لازیاتو پرمختیایي هېوادونو ته دې د سرچینو ګټې ورسوي.

درېیم؛ مونږ باید ټولشموله پرمختګ وکړو. بېلابېل هېوادونه باید د کرونا وبا له امله له اغیزمن شویو پرمختیایي هېوادونو او کمزورو خواوو سره لا زیاتې مرستې وکړي. چین یوه موده مخکې د شلو صنعتي هېوادونو ډلې په چوکاټ کې له خپلې ژمنې سره سم نورو ته د یو میلیارد او درې سوو میلیونو ډالرو د ورکړل شوي پور د بېرته اخېستو موده غځولې او له اړتیاوو سره سم به نورو هېوادونو ته هم د ورکړل شویو پورونو د بېرته اخیستو موده تمدید کړي. بېلابېل هېوادونه باید د ښځو ځانګړو اړتیاوو ته پاملرنه وکړي او ((د بیجینګ اعلامیه)) او ((عملیاتي پلان)) دې پلی کړي. چین غواړي چې په ۲۰۲۵ کال کې د ښځو نړیواله سرمشریزه جوړه کړي او له کرونا وبا وروسته به د ښځینه چارو د پرمختګ لپاره خدمتونه وکړي.

چین په نویو انکشافي حالاتو کې کوشش کوي، چې د نړیوال اقتصاد د بنسټ ډېره کېږدي.

یوه موده مخکې د چین څوارلسم پنځه کلن پلان څرګند شو. د چین دغه پنځه کلن پلان یوه لویه ستراتیژي ده، چې د دې هیواد د انکشافي حالاتو او شرایطو پر اساس د اقتصاد نړیوال کیدو او بیروني بدلون ته پام سره یې داسې نوی انکشافي شکل وړاندې کړی، چې کورنی لوی دوران پکې عمده رول لوبوي او کورنی او بهرنی دواړه دورانونه هڅوي. دا د چین د اقتصاد د اوږدمهاله پرمختګ لپاره ټینګه اتکا او د نړیوال اقتصاد د ارام پرمختګ لپاره کلک بنسټ برابروي.

په نویو انکشافي حالاتو کې به د چین اقتصادي پرمختګ ښه تمایل وساتي. په دې وروستیو کلونو کې د چین د بازار او سرچینو پرمختیایي ماډل په خاموشۍ سره بدل شوی دی. پر بهرنۍ سوداګرۍ د چین اتکا خورا ډېره کمه شوې او کورنی لګښت یې د اقتصادي ودې اصلي محرکه قوه ګرځېدلې ده. نوې انکشافي بڼه د چین د اقتصادي جوړښت د تنظیم او د باکیفیته پرمختګ لپاره له کورنیو اړتیاوو سره سمون خوري. اوس د چین د مالونو تجارتي واردات د وبا له اغیزې څخه وتلي او اندازه یې د تېر کال له همدې مودې سره برابره ده. په ټوله کې د چین د اقتصاد انکشافي او ارام حالات او وړاندوینه نه دي بدل شوي.

چین به په نویو انکشافي حالاتو کې د نورو هېوادونو لپاره لوی بازار برابر کړي. د چین د هر کس پر سر کورنی تولیدي ارزښت له لس زرو امریکایي ډالرو څخه اوښتی، د منځنیو عایدات لرونکو کسانو شمېر یې ۴ سوو میلیونو تنو ته رسیدلی دی او ډېر نړیوال سازمانونه اټکل کوي، چې سږ کال به د چین د اجناسو پرچون بازاري اندازه شپږ زرو میلیاردو امریکایي ډالرو ته ورسېږي. اوس د چین د مالونو وارداتي اندازه د تېر کال د همدې مودې پیمانې ته رسېدلې ده. چینایان د خپل ژوند د لا ښه والي لپاره د نړۍ د ګوټ ګوټ باکیفیته تولیداتو، تخنیکونو او خدمتونو ته لازیاتې اړتیاوې لري او چین د باکیفیته تولیداتو لپاره یو خورا لوی بازار بلل کېږي.

چین به په نویو انکشافي حالاتو کې له نورو هېوادونو سره فرصتونه شریک کړي. ورخلاصون د چین عمده نه بدلیدونکې حکومتي تګلاره ده. بهر ته د چین ورخلاصون په شا شوی نه دی، بلکې د لا پراخوالي لپاره یې ځینې تدبیرونه نیولي دي. د بېلګې په ډول، په دغه برخه کې یې د بهرنیو پانګونو قانون او عملي قاعدې نافذې شوې دي، د بهرنیو پانګونو د داخلېدو منفي لېست یې نور هم کم شوی او په پولي بازار کې د داخلېدو پروسې یې هڅولې دي. چین به د پرانیستي اقتصاد سویه لوړه کړي، بازاري، قانوني او نړیوال سوداګریز چاپیریال به جوړ کړي او د سوداګرو لپاره به لازیاتې اسانتیاوې برابرې کړي.

**مونږ پر څو اړخیزم ټینګار کوو او د نړۍ سوله او ارامتیا ساتو**

رییس شي جین پینګ په خپلو خبرو کې څرګنده کړه، چې تاریخي تجربو ته په کتو پر څو اړخیزم ټینګار کول او مساوات او عدالت د شخړو او جګړو مخه نیسي. یو اړخیزم او زورواکي همیشه د شخړو او جنجالونو د سختوالي سبب ګرځېدلي دي. بېلابېل هېوادونه باید د همکاریو بیرغ اوچت کړي، د څو اړخیزم او ګډې مشورې، ابادۍ او شریکو ګټو پر اصولو باید ټینګار وکړي او له کرونا وبا وروسته دې د نړۍ ارام پرمختګ وهڅوي.

لومړی؛ مونږ ټول باید د تجارت نړیوال سازمان په مرکزیت له څو اړخیز میکانیزم څخه ملاتړ وکړو، ازاد او پرانیستی تجارت او پانګونې او د ورخلاصون، ټولشموله، پراخو ګټو، برابرۍ او ګډو ګټو پر لوري د اقتصاد د نړیوال کېدو پرمختګ باید وهڅوو.

دویم؛ مونږ باید نړیوال عدالت او مساوات وساتو، د څو اړخیزم بیرغ باید اوچت ونیسو، د ملګرو ملتونو منشور نیت او اصول او د دې سازمان په مرکزیت باید نړیوال سیستم او د نړیوالو قوانینو پر بنسټ نړیوال نظام باید ټینګ وساتو. موږ باید د مشورو او مذاکراتو له لارې خپلمنځي توپیرونه حل کړو او د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې د لاسوهنې، یو اړخیزو بندیزونو او لاس غځونې سره کلک مخالفت وکړو او د پرمختګ سوله ییز او ارام چاپیریال باید په ګډه اباد کړو.

درېیم؛ مونږ باید د نړیوال او سیمه ییز متقابل پیوستون پر پرمختګ ټینګار وکړو. متقابل پیوستون د سیمې د اقتصادي ګټو د یو ځای کېدو مهم بنسټ دی او د نړۍ د ګډ پرمختګ اړین شرط هم دی او د وبا په درشل کې یې ارزښت نور هم را برسېره شوی دی. چین غواړي چې له بېلابېلو خواوو سره یو ځای یو کمربند او یوه لاره اباده او د سیمې د متقابل پیوستون لپاره پراخ ډګر چمتو کړي او د نړۍ اقتصادي پرمختګ ته پیاوړې قوت ورکړي.

**مونږ باید خپل ګډ کور (نړۍ) وساتو او د بشر او طبیعت تر منځ همغږي باید پیاوړې کړو**

رییس شي جین پینګ خپلو خبرو کې دې ته اشاره وکړه، چې د نړۍ تودوخې لوړتیا د کرونا وبا له امله نه ده ځنډول شوې او له اقلیمي بدلون سره مقابله باید یوه شېبه هم پرې نږدو. چین غواړي له نورو هېوادونو سره یو ځای د چاپیریال ساتلو په برخه کې د شته ننګونو پر وړاندې مقابله وکړي، پاکه او ښایسته نړۍ جوړه کړي او زموږ د ټولو شریکه دغه شنه کره وساتي.

لومړی؛ مونږ باید له اقلیمي بدلون سره مقابله پیاوړې کړو. په دې برخه کې باید ((د پاریس تړون)) پلی کړو. بېلابېلې خواوې ګډ مسوولیتونه لري، خو د هرې خوا مسوولیتونه بېل بېل دي او ځینې هیوادونه باید له پرمختیایي هېوادونو سره لا زیاتې مرستې وکړي. رییس شي جین پینګ څه موده مخکې اعلان وکړ، چې چین به خپل خدمتونه پیاوړي کړي، تر ۲۰۳۰ کال پورې به د کاربن ډای اکسایډ د ایستلو اندازه تر ټولو لوړې څپې ته ورسوي او پس له هغې به یې مخ په ځوړ کړي او تر ۲۰۶۰ کال پورې به کاربن نیټریل (carbonneutral) پوره کړي. چین به پر خپله ژمنه ولاړ وي او ټینګ تدبیرونه به ونیسي.

دویم؛ مونږ باید پاکه انرژي وساتو او لا یې ډېره کړو. چین د پاکې انرژۍ په برخه کې د نړۍ تر ټولو لوی سیستم لري او د نوې انرژۍ د موټرونو د تولید او خرڅلاو ارقامو یې له ۵ کلونو راهیسې په نړۍ کې لومړی مقام نیولی دی. چین به د خپل څوارلسم پنځه کلن پلان او د ۲۰۳۵ کال لپاره د اوږدمهاله موخو وړاندیز سره سم له انرژي څخه پاکه او اغېزمنه استفاده پیاوړې کړي، د پاکې انرژۍ صنایع به پرمخ بوځي او د اقتصاد او ټولنې شین پرمختګ به وهڅوي.

درېیم؛ مونږ باید طبیعت ته په درناوي، ایکولوژیکي سیستم اباد کړو. چین غواړي چې د وحشي ژویو غیرقانوني تجارت بیخي بند کړي او د وحشي ژویو او نباتاتو د ساتلو په برخه کې به د نظر تبادلې او همکارۍ پیاوړې کړي. ټاکل شوې چې د راتلونکي کال په مې کې به د بیولوژیکي تنوع پروتوکل د بنسټګرانو ۱۵مه غونډه د چین په کون مینګ کې تر سره شي او هیله ده چې په دغه غونډه کې د بیولوژیکي تنوع د ساتلو لپاره دندې وټاکل شي او اړوند ګامونه به پورته شي.

چین تر ټولو لوی پرمختیایي هیواد دی او چین او افغانستان دواړه د نړیوال څو اړخیز میکانیزم مهم برخه اخیستونکي او مستقیم ګټه اخیستونکي دي. رییس شي جین پینګ همیشه په نړیوالو څو اړخیزو ډګرونو کې د مخ پر ودې هیوادونو ګټو ته پاملرنه کړې او په خپلو ویناوو کې یې د پرمختیایي هېوادونو ګټې په نظر کې نیولې دي. نوموړي ویلي چې چین به له کرونا وبا سره د مبارزې په برخه کې له پرمختیایي هېوادونو سره مرستې وکړي، له کرونا وبا وروسته باید د پرمختیایي هېوادونو ستونزو ته پاملرنه او ورڅخه ملاتړ وشي، د پرمختیایي هېوادونو حقونه او فضا باید وساتل شي او د مخ پر ودې هیوادونو نمایندګۍ او غږ ته باید وده ورکړل شي.

د چین په هڅو، د بریکس هېوادونو د مشرانو د ۱۲م ملاقات د مسکو په اعلامیه کې په افغانستان کې د دایمي سولې غوښتنه وشوه او د یو ثابت، ټولشموله، سوله ییز، خپلواک او سمسور هېواد د ابادولو په اړه له افغانانو څخه یو ځل بیا ټینګ ملاتړ وشو. د دې تر څنګ، د بین الافغاني مذاکراتو هرکلی وشو او د افغانانو په لارښوونې او حاکمیت یې د افغانستان له سوله ییز بهیر څخه کلک ملاتړ وکړ. د رییس شي جین پینګ مهم نظرونه او غوښتنې به افغانانو ته ګټې ورسوي.

د افغانستان سوله ییزه لار لا هم سخته او تاوجنه ده او د کرونا وبا تر اغېز لاندې د افغانانو ټولنیز ژوند او اقتصادي پرمختګ هم له ننګونو سره مخامخ شوی دی. د نړۍ د تېرو سلو کلونو حالاتو ته په کتو او د اوسني ستر بدلون او وبا په حال کې به چین او افغانستان یو له بل سره مرستې وکړي، په نوې موده کې به په بېلابېلو ساحو کې واقعي همکارۍ وکړي، د څو اړخیزم لویه پروژه به په ګډه اباده کړي، د ټولیز پرمختګ لوی کاروبار به پرمخ بوځي او د بشر د سوله ییز پرمختګ لوی امید به پوره کړي.

# د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

حکمت الله ځلاند

**ب: چاپېريالي او اقتصادي ستونزې**

په ټولیز ډول ایران له افغانستانه د ورتلونکو اوبو کمبدل او په ځانگړې توگه د هامونونو وچېدل په دې سیمه کې د اقتصادي پراختیا او پرمختیا لپاره جدي گواښ بولي او دغه هېواد یې اندېښمن کړی دی؛ خو د اقتصادي اغېزو تر څنگ، په دې سیمه کې د هامون د وچېدو له کبله د پراخو بیابانونو رامنځ ته کېدو چاپېريالي ستونزې هم راټوکولې دي. د هامون وچېدو چې ۴۰۰ زره تنه یې شاوخوا ژوند کوي، په دې سیمه کې د تودوخې درجه هم په بې‌مخینې ډول لوړه کړې ده؛ څکه تر دې مخکې به پر اوبو لگېدونکو بادونو، په تېره بیا په دې سیمه کې ۱۲۰ ورځې موسمي بادونو د تودوخې کچه راټیټوله. خو اوس دا بادونه د ایران په سوېل- ختیځه برخه کې د گرد او رېگونو د طوفانونو لامل شوي دي.

له مې تر سپټمبر میاشتې په دغو سیمو کې سخت بادونه لگېږي او زهرجن گرد له ځان سره لېږدوي. د روغتیا د نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۶ کال کې د ایران زابل ښار د هر بل ښار په پرتله زیات گرد او غبار درلود. د زابل په لوېدیځ کې د یوه مخکیني سیند په غاړه یو پرېښودل شوی (متروک) کلی یې ښه مثال دی، چې کورونه یې اوسمهال تر نیمایي پورې په رېگونو کې پټ دي.

**ج: په افغانستان کې د اوبو مدیریت او بندونه**

په تېرو څلور نیمو لسیزو کې په افغانستان کې د سیاسي او امنیتي گډوډیو له کبله ایران ته له افغانستانه د ورغلو اوبو دقیقه کلنۍ کچه معلومه نه ده؛ خو بیا هم د افغان چارواکو څرگندونو او ځینو څېړنو ته په کتو سره، چې مخکې یې یادونه وشوه، ایران په دې موده کې له افغانستان سره له گډو اوبو تر خپل سهم زیاتې اوبه تر لاسه کړې دي او اوس یې هم د تېر په څېر تمه لري؛ خو دا چې له یوې خوا وچکالۍ ټوله سیمه ځپلې او له بلې خوا په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت له راتگ سره د تېرو دورو په پرتله د اوبو د مدیریت په برخه کې ځینې گامونه پورته شول، د ایران اندېښنې یې له ځان سره لرلې او ایران وېره لري چې د هلمند سیند اوبه به د وچکالیو او دغسې پروژو د تطبیق له کبله نورې هم کمې شي. د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، افغانستان اوسمهال د ټول هېواد په کچه د ۴۰ بندونو په اړه د څېړنو او جوړولو عملي کار تر لاس لاندې لري، چې یوازې څلور هغه یې له ایران سره پر گډو اوبو جوړېږي. دا په داسې حال کې ده چې د اوبو او انرژۍ د پخواني وزیر په وینا، ایران له افغانستان سره پر گډو اوبو بیا ۶۰۰ بندونه جوړ کړي دي.

د ملي یووالي حکومت د بېلابېلو لاملونو له کبله چې یوه یې هم د اوبو قضیه ده، د کرزي د دورې په پرتله له ایران سره تنتې اړیکې لري. د ولسمشر کرزي په دوره کې له ایران سره پر گډو اوبو د بندونو جوړولو یا ترمیم چارو ډېر پرمختگ نه درلود او له همدې کبله داسې تورونه هم شته چې د کرزي په دواړو دورو کې د ایران د خوشحالولو لپاره دا کار وشو، ان تر دې چې له ایران څخه د تورو پیسو د راتگ خبره افشا شوه. ځینې راپورونه دا هم وايي چې په هلمند، هرات او ورڅېرمه ولایتونو کې د ایران لخوا په پټه ځینو چارواکو ته مالي امتیازونه ورکول کېدل.

په تېره څه باندې یوه نیمه لسیزه کې سلما بند یوازېنی بېلگه ده، چې پروژه یې بشپړه شوې ده. دا بند د ۶۴۰ میلیون متره مکعب اوبو زېرمه لري او په ۶۴۰ کلیو کې نږدې ۸۰ زره هکتاره ځمکه خړوبولی شي او تر څنگ یې د ۴۲ میگاواټه برېښنا، چې ۲۵۰ زره کورونه روښانه کولی شي، د تولید وړتیا هم لري. خو دا پروژه هم له سختو ننگونو سره مخ وه. د دغه بند طرحه لومړی ځل په ۱۹۷۶ کال کې وړاندې شوه او په ۱۹۸۸ کال کې یې عملي بڼه واخیسته، خو په افغانستان کې د اوږدو جگړو له کبله پاتې وه او د حامد کرزي په دوره کې هم د حکومت د محافظه‌کارۍ له کبله بشپړه نه شوه او بالاخره د ملي یووالي حکومت پر مهال بشپړه شوه.

ایران د سلما بند تر څنگ، د کمال خان بند د جوړېدو مخالفت کوي. د دغه بند پروژه په ۱۹۹۶ کال کې پیل شوه؛ خو تر ۲۰۱۱ کال پورې د امنیتي ستونزو له کبله کار پرې ونه شو. له همدې کبله افغانستان په ۲۰۱۲ کال کې ایران تورن کړ، چې د سیمه ییزو وسله‌والو په ملاتړ کولو سره د دې پروژې د سبوتاژ کولو هڅه کوي. کمال خان بند د هلمند سیند پر اوبو د نیمروز په چهاربرجک ولسوالۍ کې جوړېږي او افغان چارواکي وايي، دغه بند داسې طراحي شوی چې د هلمند سیند د اوبو د ضایع کېدو لامل نه کېږي. افغان چارواکي دا هم وايي چې د دغه بند اوبه به د ایران د پولې په ۱۰۰ کیلومترۍ کې اندازه‌گیري هم کړي او ایران ته به پوره اوبه رسېږي.

د کجکي بند چې ایران یې تل د هلمند سیند د اوبو د کمښت یو مهم لامل بولي، که څه هم په ۱۹۵۰مو کلونو کې جوړ شوی، خو د ملي یووالي حکومت پر مهال د دغه بند د دویم فاز جوړېدو د قرارداد لاسلیک کېدو هم ایران اندېښمن کړ.

دغه راز د فراه د پخواني والي اصف ننگ په وینا، ایران د فراه ولایت د بخش‌آباد بند د جوړولو په چارو کې تخنیکي لاسوهنې کوي، چې له کبله یې په تېرو څو کلونو کې د دغه بند چارې نه دي بشپړې شوې. بخش اباد بند چې د هلمند د حوزې په فراه‌رود شاخه د فراه ولایت په بالا بلوک ولسوالۍ کې جوړېږي، د ۲۷ میگاواټه برېښنا د تولید او ۲۶ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو وړتیا لري. همدا لامل هم و چې د افغانستان دفاع وزیر هم د فراه جگړه د اوبو جگړه وبلله.

**څلورمه برخه؛ پر کابل- تهران اړیکو د اوبو مسئلې اغېزې**

ایران او افغانستان، د افغانستان- پاکستان- هند په څېر د سیمو پر سر شخړې نه لري؛ خو د اوبو موضوع یې دوه‌اړخیزې اړیکې گواښې او اوسمهال د اوبو مسئله په دغو اړیکو کې یو مهم فکټور بلل کېږي. کوم څه چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم په خپله وروستۍ مرکه کې اشاره ورته وکړه.

له بده مرغه د ایران او افغانستان تر منځ د اوبو پر مسئله اختلافات یوه نوي پړاو ته د ننوتلو په حال کې دي او د گډو اوبو قضیه په دواړو هېوادونو کې خورا زیاته سیاسي شوې ده. په ایران کې د چاپېریال ساتنې په اړه نړیوال کنفرانس (۲۰۱۷ د جولای ۳مه) کې د ایران د ولسمشر حسن روحاني وینا او په افغانستان کې د بندونو پر جوړولو نیوکو، په افغانستان کې پراخ غبرگونونه راوپارول. د موضوع حساسیت ته په کتو سره که څه هم اړتیا وه چې روحاني په خپلو خبرو کې د کلمو انتخاب په ځیرکۍ سره وکړي او تر یوه بریده یې خبرې ناسمې هم تعبیر شوې؛ خو په ټولیز ډول نوموړي د افغانستان د بندونو موضوع په صراحت سره مطرح کړه، چې د افغان چارواکو، د ملي شورا ځینو غړو او په ټولنیزو رسنیو کې د عامو افغانانو له پراخ غبرگون سره مخ شوه، ان په ځینو ښارونو کې د ایران پر ضد لاریونونه هم وشول.

په ټولیز ډول ایران او افغانستان په خپلو دوو اړخیزو اړیکو کې له ځینو لوړو- ژورو سره سره، نږدې اړیکې لرلې دي. خو په وروستیو کلونو کې د بېلابېلو راپورونو له مخې، په لوېدیځو او سوېل- لوېدیځو ولایتونو کې ایران د افغان حکومت د مخالفینو په ملاتړ او مرستو تورن شوی، کوم څه چې پر دغو دوو اړخیزو اړیکو یې سیوری غوړولی او یو لامل یې هم د اوبو قضیه بلل کېږي.

**دوام لري...**

# خونړۍ میاشت؛

## د لومړي مرستیال له مسوولیت سره هممهاله هم، کابل ښاریانو ارامه ورځ نه لرله



تېره میلادي میاشت د کابل ښاریانو لپاره خورا خونړۍ وه. د راپورونو له مخې، په تېره میلادي میاشت کې په کابل ښار کې گڼ بریدونه او چاودنې شوې دي چې له امله یې تر ۳۰ ډېر ملکیان وژل شوي او تر ۹۰ ډېر نور ټپیان شوي دي. دا پېښې داسې مهال کېږي چې د ولسمشر لومړي مرستیال د کابل ښار د امنیت مسوولیت پر غاړه اخیستی دی.

بلخوا حکومت د امنیتي میثاق په نامه پروگرام هم پیل کړی چې ادعا کوي له دې لارې د کابل په امنیت کې پوره بدلونونه راغلي دي.

څه باندې یوه میاشت کېږي چې د کابل ښار د امنیت مسوولیت د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ته سپارل شوی دی. د نوموړي له لوري هر سهار د شپړنیمو جلسې ترسره کېږي او په هغه کې د کابل ولایت ترهگریزې، جنایي او نورې امنیتي پېښې ارزول کېږي. سره له دې چې د هغه له فعالیتونو سره سم په کابل کې جنایي پېښې راکمې شوې، خو امنیتي او ترهگریزې پېښې لا هم پر خپل ځای دي.

د کورنیو چارو وزارت یوه باوري سرچینه وايي چې وسله والو طالبانو تېره میاشت په کابل ښار کې تر ۱۵ پورې بریدونه او چاودنې کړې دي. د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین سره له دې چې د شوو چاودنو او بریدونو د شمېر او تلفاتو په اړه څه نه وايي، خو زیاتوي چې امنیتي ځواکونو گڼ بریدونه او د ترهگریزو پېښو لپاره د وسله والو جوړ کړي پلانونه خنثی کړي دي. د آرین په خبره، د دې پېښو په تړاو د کابل امنیتي منسوبینو گڼ کسان نیولي دي. هغه وايي: ((په کابل کې د موټر بمونو مخنیوی شوی، د مقناطسي ماینونو په تړاو مو هم یو شمېر کسان نیولي، هغه شبکې چې په دې برخه کې ښکېلې وې، هغوی هم دوې ورځې وړاندې ونیول شوې، خو بیا هم زموږ کار روان دی)).

سره له دې هم تېره میاشت د کابل ښاریانو لپاره خونړۍ وه. پر کابل پوهنتون ډله‌ییز ترهگریز برید وشو چې دا پېښه خورا بوږنوونکې وه او په نړیواله کچه یې غبرگونونه لرل. وسله والو داسې مهال پر کابل پوهنتون برید وکړ چې محصلین په زده کړو بوخت وو، نو له همدې امله یې تلفات هم ډېر وو. په دې پېښه کې ۲۲ محصلین ووژل شول او تر ۴۰ پورې نور ټپیان شول.

له دې پېښې څو ورځې وروسته پر کابل ښار ۲۴ توغندیز بریدونه وشول. د دې پېښې له امله هم لس ملکیان ووژل شول او تر ۵۰ پورې نور ټپیان شول. دا پېښه هم خورا ټکان ورکوونکې وه او په کابل کې یې د گڼو سفارتونو او نړیوالو ادارو غبرگونونه له ځان سره لرل.

بلخوا د ولسمشر لومړی مرستیال امرالله صالح چې د کابل د امنیت مسوول دی او دغه راز د امنیتي میثاق د تنظیم په چارو کې لوی لاس لري، وایي چې امنیتي ادارو گڼې ترهگریزې پېښې خنثی کړې او د ترسره شوو پېښو په تړاو یې هم گڼ کسان نیولي دي. امرالله صالح په خپلو ورځنیو خپرو کړو نوټونو کې څو ځله د کابل پوهنتون د برید عاملینو د نیول کېدو خبر ورکړی، خو تر دې دمه د دغې دوسیې پایلې نه دي روښانه شوې.

د دې تر څنگ په کابل ښار کې په دې وروستیو کې نږدې هره ورځ د مقناطیسي یا ځای پر ځای شوي ماین چاودنې کوي. د یوه راپور له مخې، په تېرو لسو ورځو کې په کابل ښار کې د مقناطیسي ماینونو لس چاودنې شوې دي. پر کابل ښار راکېټي بریدونو او دغه لسو چاودنو څوارلس کسان وژلي او ۷۰ نور یې ټپیان کړي دي. تر ډېره دغه چاودنې پر دولتي موټرو پورې د نښلولو شوو مقناطیسي ماینونو د چاودنې له امله رامنځ ته شوې دي. کورنیو چارو وزارت او د لومړي مرستیال مطبوعاتي دفتر په دې اړه هم د گڼو کسانو د نیول کېدو خبر ورکوي.

بلخوا کابل ښاریان دلته د روان امنیتي وضعیت په اړه اندېښمن دي. دوی له حکومتي او امنیتي چارواکو غواړي چې ژر تر ژره دې د کابل ښار د امنیت په تامین کې خپلې هڅې ډېرې کړي او په داسې اقداماتو دې لاس پورې کړي چې پایله یې د نا امنیو کمېدل وي.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له یو میلیون او ۴۷۷زرو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۶۳ میلیونه او ۷۴۷ زره او ۷۵۰ ته ورسېدې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۴۷۷ زره او ۱۴۴ کسان مړه شوي او له ۴۴ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي. د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۳ میلیونه او ۹۲۳ زره او ۷۵۸ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۷۴ زره او ۳۸۶ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۴۷۷ زره او ۶۰۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۳۳۶ زره او ۲۷۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ۳۲۲ زره او ۵۶ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۲۲۲ زره او ۴۸۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر خپل شوي دي.

بلخوا د راپورونو له مخې، په گڼو اروپایي هېوادونو او دغه راز متحدو ایالتونو کې به ژر میلیونونو کسانو ته د کرونا ویروس پر ضد واکسین ورکړل شي. د فایزر او بیو این ټیک کمپنیو واکسین به د روانې اونۍ په پای کې په برېټانیا او بله اونۍ په امریکا کې گڼ شمېر خلکو ته پېچکاري شي. امریکا، جرمني او برېټانیا به لومړني هېوادونه وي چې په راتلونکو ورځو کې به خپلو خلکو ته د کرونا ویروس پر ضد عمومي واکسین پیل کړي.

د امریکا د متحدو ایالتونو او اروپا روغتیایي چارواکي وايي، چې د کرونا ویروس د مخنیوي لپاره به واکسیناسیون په راتلونکو څو اونیو کې تر نوي میلادي کال وړاندې پیل شي. باور کېږي، چې برېټانیا به لومړنی هېواد وي چې د فایزر او بیو این ټیک کمپنیو له لوري جوړ شوی واکسین د ډسمبر په اوومه پیل کړي. همداراز اټکل کېږي، چې له برېټانیا وروسته د ډسمبر په ۱۰مه د امریکا د خوړو او درملو ملي اداره دا واکسین تایید کړي او خلکو ته به یې پېچکاري پیل شي.

تر دې وړاندې رویټرز خبري اژانس ویلي وو چې فایزر کمپنۍ به د امریکا د درملو او خوړو له ادارې د جواز له ترلاسه کولو ۲۴ ساعتونه وروسته ټولو ایالتونو ته واکسین ورسوي او له خلکو به وغواړي چې د واکسین د ترلاسه کولو لپاره چېرې مراجعه وکړي.


## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پیښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◉ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سپنها
◉ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دويمه برخه

### د نړۍ دويم تر ټولو زوړ مسلک




نوموړي د کشمير، بشري حقونو، په کشمير کې روانو حالاتو او د هند – پاکستان د اړيکو په اړه خبرې وکړې. ما د هغه په خبرو خپله تبصره وکړه، له ډېرو خبرو سره يې موافق او له ځينو سره يې مخالف وم، خو مجلس په ټوله کې خوندور او صميمي و. ما بېرته موضوع استخباراتو ته کش کړه. په حقيقت کې ما غوښتل چې امتياز هغه او ساهای ته بې له دې چې نوم يې واخلم، ورکړم. نو ما وويل: «تا او ملګري دې کله چې له يو بل سره مو خبرې کولې، ډېر ښه کار وکړ، چې پايله يې استخباراتي همکاري شوه. موږ په ۲۰۰۳ کال کې يو اوربند درلود، تاسو دواړو هغه څه وکړل چې مشرانو مو غوښتل» ما هغه کيسه ور زياته کړه چې استخباراتي معلومات مو تبادله کړي وو چې پر بنسټ يې کېدای شوای د مشرف ژوند ژغورل شوی وای. ما وويل: مبارک، ستر کار شوی و. خلک هک حيران وو چې دواړو څنګه دومره عادي مباحثه درلوده. د غونډې په جريان کې د پوښتنو او ځوابونو برخه هم وه او موږ هڅه وکړه چې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکړو. احسان صېب په يوه برخه کې ډېر محتاط و. په تالار کې يو شمېر حاضرو بلوڅ ځوانانو توندې پوښتنې وکړې. نوموړي ځواب ور نه کړ چې زه يې نه ملامتوم. په پايله کې د پروګرام اسانچارې وويل: جنرال صېب ايا دې پوښتنو ته ځواب ورکوې او که نه؟ هغه وويل، نه زه سياستوال نه يم او دا پوښتنې بايد سياستوال ځواب کړي. د هغه دا ډول دريځ ډېر ښه و، خو يادو هلکانو سرې خجالت کړ. له دې ورهاخوا، پروګرام ښکلی و او تر پروګرام وروسته له دروازې سره نږدې ځای ته لاړو چېرته چې رسنۍ موږ ته منتظرې وې. زياتره يې پاکستانۍ رسنۍ وې او يوې ډلې يې پر پنجابي ژبه خبرې کولې. ما هم د هغوی پوښتنو ته په پنجابي ځواب ورکړ. هغوی حيران شول.

سپنها: ايا هغه خبرې په اوسني ډيالوګ کې د بحث لپاره مطرح کېدای شي؟

دوراني: زما په اند دا بهير د لندن غونډې ته په کتو پيل شو. دا د لوړې کچې يوه مهمه غونډه وه چې ترسره شوه. دويم دا چې دا به زموږ د پروسې پيل په زړه پورې کړي. وروسته بيا سړی پوهېږي چې څه پېښېږي. کېدای شي دربيم، زما ګټې. دولت صېب تل وايي چې مشره لومړی تاسو، په دې وخت کې نه شی کولای چې انکار ترې وکړې. هغه مشر سويچ کړی و او احسان ته يې د مشر خطاب کړی و، خو حداقل لومړی بايد هغه خبرې پيل کړې وای. احسان تکړه انسان دی او د دې وړتيا لري چې زموږ د نظر استازيتوب وکړي. هغه له ډېرو مسايلو سره نوی دی، ځکه چې تر ما لس کاله وروسته د ISI مشرۍ ته راغی. نوموړي رياست کړی او د ارګان رئيس تېر شوی چې په لويه کې له دغه ډول مسايلو سره اشنا دی.

دولت: احسان ښه سړی دی، خو موږ دواړه يوه ځانګړنه دا لرو چې غواړو رُک او ساده اوسو.

دوراني: رښتيا ده. زه خوشاله يم چې زما مخامخ ناست کس رښتينی دی. زه هم هڅه کوم چې رښتينی اوسم. زما ستونزه له هغو کسانو سره ده چې د نورو تر فشار او اغېز لاندې وي. همېشه د نورو نبض او سترګو ته ګوري او فکر کوي چې په کور کې به راته څه ووايي.

دولت: دا يوازې له نورو ډار او فشار نه دی ښاغليه.

دوراني: هر يو خپل محدوديتونه لري. زه په دې ډله کې ښه يم، زه د کوم فشار احساس نه کوم او نه خپل ځان محدودوم. د لندن سکول آف ايکانوميکس په څېر په يوه فورم کې ښايي زه تر ځانګړو موضوعاتو پورې خپلې خبرې محدودې کړم. حتی دلته هم کېدای شي چې ځينې کسان د نورو په پرتله ډېرې سپينې خبرې وکړي.

دولت: ټول خوند يې په همدې کې دی. دا د راز ساتنې کار دی او کومه خبره چې تاسو وکړه، هر يو په خبرو او ويناوو کې خپل محدوديتونه لري. که يو څوک څومره ازاد وغږېږو، خو بيا هم اسمان يې په مخ کې حد دی.

سپنها: د جنرال احسان او ښاغلي ساهای تر منځ معادله اوس څه ډول ده؟

دوراني: هغوی د مشرانو په غوښتنه بيا سره وليدل، چې غالباً ښه کار يې وکړ. دواړه هغه وخت له کوم محدوديت او قيد سره مخ نه وو. هر يو په خپلواکه توګه خبرې وکړې. دا چې پر هغوی کوم محدوديت نه و، نو بايد وستايل شي. دا ډېر ښه کار دی.

سپنها: ايا هغوی دواړه د خبرو په يوه هوسا کچه کې وو؟

دوراني: هغوی ښايي ورته خبرې په بل ځای کې هم وکړي، دا له دې کبله نه چې هغوی احسان يا ساهای دي. که د هغوی پر ځای زه و اوسم، نو له ښاغلي دولت سره به سپينې خبرې وکړم او که نور خلک هم وي، نو پام به ونه کړم. زه تر دې کچې ازاد يم.

دولت: دا په دې پورې اړه لري چې له نورو خلکو سره څومره هوسا يا راحته يې. زه خپله هڅه کوم چې له داسې حالت سره عادي چلند وکړم او ټوکې ټکالې وکړم. ولې له داسې مسايلو سره بايد جدي اوسو، دا بل کس ته وزن ورکوي او احساس کوي چې هغه يا پاکستان نه تحقيروم، بلکې دلته د دې لپاره راغلي يو چې په ټوکو او خوشالۍ خبرې وکړو.

دوراني: دغه ډول چلند موږ نور هم هڅوي چې په دې ډول پروګرامونو کې ګډون وکړو.

دولت: موږ ښايي پر يو بل کنايې ويلې وي، خو په خندا او دا په ټوله کې خوندور و. **دوام لري...**

# بريالی کېدای شم

اکسوس کتابپلورنځی




که لږ پام وکړو، پوه به شو چې زموږ د هر يوه ژوند له ځينو داسې پېښو او کيسو ډک دی چې هېڅکله به هېرې نه شي. هغه شېبې چې موږ د يوه کار د تر سره کولو توان درلود، خو تر سره مو نه کړ، هغه شېبې چې موږ يو څه غوښتل، خو لاسته مو را نه وړل، هغه شېبې چې بايد پر يوه موضوع پوه شوي وای، خو هغه شېبه پرې پوه نه شوو، هغه تصميمونه چې بايد نيولي مو وای، خو د يادو تصميمونو د نيولو لپاره مو لوی زړه نه درلود او (نه شم کولای) کلمې زموږ د ژوند يوازينۍ پېژندل شوې او ارزښت لرونکې کلمې وې.

په دې کتاب کې کولای شی ډېر هغه (کولای شم) ولولی چې مخکې مو په خپل زړه او ذهن کې درلودل خو پر مټ يې د پرمختللو، لوړ ختلو او پوهېدلو لپاره له خنډونو او لوړو ژورو يوه تشه لاره جوړه کړئ؛ خو جرئت او وړتيا مو يې نه درلوده.

موږ په داسې نړۍ کې ژوند کوو چې هره شېبه د بدلون په حال کې ده. دا چې څه ډول له دغو بدلونونو سره ځان عيار کړو، دا زموږ په خپل لاس کې دي. له يوه لوی بحر څخه د تېرېدو لپاره بايد د هغه د اوبو وچېدو ته په تمه نه شو؛ بلکې داسې لاره او چاره بايد وسنجوو چې وکولای شو له بحر څخه تېر شو.

د انسان افکار د هغه د وجود حقيقت جوړوي. افکار د يوې نه ليدل کېدونکې (نا مرئي) انرژۍ په بڼه زموږ لخوا استول شوي او بالاخره د يوې فزيکي مادې په بڼه زموږ په وجود کې را ښرګندېږي.

ژوند په ټولو هغو شېبو کې چې د تېرولو د څرګنوالي لپاره يې نقشه جوړوو، د پېښېدو په حال کې دی. د منفي ذهن په مرسته نه شو کولای چې يو مثبت ژوند ولرو. نو غوره ده چې خپل وخت پر خپل پرمختګ ولګوو، نه دا چې هر څه ته د منفي زاويې له اړخه وګورو. د تل لپاره بايد په ياد ولرو چې يا موږ بايد خپل احساسات کنټرول کړو او يا اجازه ورکړو چې احساسات موږ تر خپل کنټرول لاندې راولي.

ژوند له داسې ستونزو، خنډونو او لوړو ژورو ډک دی چې که چېرې يې يو ځل زموږ لمن ونيوله او ومو نشوای کړای چې په ښه توګه يې مديريت کړو، همغه ده چې په داسې يو لوی سر درد به بدل شي چې نور به يې د کنټرول او مديريت کولو لپاره ډېره ناوخته شوې وي.

په ژوند کې پرله پسې ماتې، لوړې ژورې، د اړتياوو او هيلو نه پوره کېدل، پر ځان باندې د باور نه درلودل، نا مناسبه دنده، د ټولنې له ستونزو سره د تحصيلي رشتې نا مناسب والی او ډېرې نورې ستونزې او ناخوالې هغه عوامل دي چې د يو شخص لپاره د دروني ځور، غم او لسګونو نورو ستونزو د رامنځ ته کېدو لامل کېدای شي. هغه کسان چې ډېر کله نور خلک د خپلو ماتو لامل بولي، معمولاً هغه کسان دي چې د برياليتوب د لارې پيدا کول ورته ډېر سخت او ان ناشوني ښکاري. په دې کتاب کې دې او دې ته ورته نورو ډېرو ستونزو ته د حل ډېرې معقولې لارې چارې وړاندې شوې دي.

«بريالی کېدای شم» کتاب د هېواد په رسمي ژبو پښتو او دري باندې د پياوړي او هڅاند ځوان ښاغلي محمد نعيم عطارد لخوا ليکل شوی او په ښکلې صحافت چاپ شوی دی.

مينه وال کولای شي ياد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو په مناسب قيمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | اقتصاد افغانستان (ظرفيت ها، چالش ها و راهکارها) | محمد توسلی غرجستانی | ٤۰۰؋ |
| ۲ | تصميم گيری سازمانی و خط مشی گذاری عمومی | رحمت الله قلي پور | ۱۸۰؋ |
| ۳ | مبادی و اصول بررسی (تفتيش) | سيد محسن هابيل | ۱۵۰؋ |
| ٤ | سوداګريزې اړيکې | محمد ارشد اعوان/شفيع الله تاند | ۱۸۰؋ |
| ۵ | حقوق بيمه افغانستان | محمد محسن رضايی | ۱۵۰؋ |
| ٦ | اسلام او ډيپلوماټيک حقوق | محمد حسين پور اميني/انېک محمد ذکي | ۱۸۰؋ |
| ۷ | درملتون | علی وارسته/محمد نواب خوښ | ٤۰۰؋ |
| ۸ | لومړنی ښوونکی | فواد بن عبدالعزيز الشلهواب/رفيع الله نعماني | ۱۰۰؋ |
| ۹ | د شخصي احوالو فقه | عبدالوهاب خلاف/رفيع الله نعماني | ۲۷۰؋ |
| ۱۰ | د پروپاګند الفبا | روين پوپل | ۱۷۰؋ |
| ۱۱ | د ميراث حقوق | عبيدالرحمن الکوزی | ۲۰۰؋ |
| ۱۲ | د انسان پېژندنې بنسټونه | پيټرمتکاف/عبدالوارث‌خوشحال | ۱۸۰؋ |
| ۱۳ | د رسنيو اقتصاد | ګيليان دويله/روح الله زهير | ۲۰۰؋ |
| ۱٤ | ماشوم روزنه | ګری چپمن، رزکمبل/امنه ستانکزۍ | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | زنان هوشمند چگونه می انديشند و چگونه رفتار می کنند؟ | شم الدين حسينی، الهام آرام نيا | ۲۸۰؋ |
| ۱٦ | HOPELESS | COLLEEN HOOVER | ۲۸۰؋ |
| ۱۷ | Reinventing Your Life | Jeffrey E. Young, Janet S. Klosko | ۲۰۰؋ |
| ۱۸ | MONEY MASTER THE GAME | TONY ROBBINS | ٤۵۰؋ |
| ۱۹ | THE ENERGY BUS | JON GORDON | ۳۰۰؋ |
| ۲۰ | JUMP | STEVE HARVEY | ۱۷۰؋ |
| ۲۱ | زولوژی عمومی | قدرت الله، محمد همايون منير و محمد عارف عرفان | ۳۱۰؋ |
| ۲۲ | تيوری و سياست بودجه عامه | سيد محمد ټينګار | ۳۰۰؋ |
| ۲۳ | حقوق مالی | عبدالطيب رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۲٤ | هندسه تحليلی | محمد انور غوری، نرگس حليمی | ۲٦۰؋ |
| ۲۵ | حقوق ماليه عمومی | محمد جعفر کوهستانی | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | حقوق کار | محمد جعفر کوهستانی | ۱۸۰؋ |
| ۲۷ | رهنمای تطبيقات مايکروبيولوژی | نورمحمد نياز | ۲۰۰؋ |
| ۲۸ | اصول محاکمات مدنی | نصرالله ستانکزی | ۳۰۰؋ |
| ۲۹ | ميتودهای عمومی تدريس | کريمه دريځ | ۳۰۰؋ |
| ۳۰ | مه خپه کېږه! الله له موږ سره دی (د سکون لاسته راوړلو راز) | اسامه ګنجي/عبدالله ابراهيمي | ۱۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۱,۲۰ |
| Rp. | ۴۸۱ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۱,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# د افغان ژوند ستر ارزښت لري؛ استرالیا باید بښنه وغواړي!

لیکنه: **سپوږمی**
د چین میډیا ګروپ خبریاله

د استرالیا صدر اعظم سکاټ موریسن د نومبر په ۳۰مه پر چین غبر وکړ، دا چې د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند جاو لي جیان په ټویټر کې د استرالیایي سرتېرو لخوا په بوړنوونکي ډول د یو افغان ماشوم د وژلو په اړه جوړ شوی کارتوني انځور خپور کړ، نو باید بښنه وغواړي او دغه انځور یې ډېر بد او سپکوونکی وباله. د چین د بهرنیو چارو وزارت بلې ویاندې هوا چون ینګ بیا د همدې ورځې په یوه نوبتي خبري ناسته کې څرګنده کړه، چې د استرالیا حکومت باید په دې غور وکړي چې څه ډول د دې جرم عاملینو ته سزا ورکړي، له افغانانو څخه دې بښنه وغواړي او نړیوالې ټولنې ته دې ژمنه ورکړي چې خامخا به په افغانستان کې د خپلو سرتېریو لخوا د نا مناسبو کړنو مخنیوی وکړي.

په یاد شوي انځور کې ښکاري چې یو استرالیایی سرتېری په چاقو سره یو افغان ماشوم چې په غېږ کې یې وری دی، ګواښي. تر څنګ یې دغه سرتېری هم وایي چې مه وېرېږه! موږ تاسو ته سوله راوړو! په دې موده کې استرالیایي رسنیو په افغانستان کې د دغه هېواد د ځینو پوځیانو سخت جرمونه افشا کړي او دغه خبر د استرالیا د دفاع وزارت په اړوند رپوټ کې تایید شوی دی. د استرالیایي پوځیانو داسې بې رحمه او وحشي کړنې د نړیوالې ټولنې لخوا سختې غندل شوې دي. آن د استرالیا د دفاعي ځواکونو قوماندان انګس کېمپبېل د نومبر په ۱۹مه د اړوند رپوټ په خپرولو سره په دې اعتراف کړی چې پوځیانو یې په افغانستان کې ولسي افغانان او اسیران شکنجه کړي او وژلي دي. د ارګ لخوا په خپرو شویو خبرونو کې هم راغلي چې د استرالیا صدر اعظم سکاټ موریسن له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره په ټلیفوني اړیکه کې تاسف څرګند کړی او د استرالیا د بهرنیو چارو وزیرې ماریس پېني هم په دې اړه له خپل افغان سیال محمد حنیف اتمر څخه بښنه غوښتې.

نو ولې د استرالیا صدر اعظم موریسن د خپلو پوځیانو د وحشي جرمونو په پرتله د چیني ډیپلومات پر یاد ټویټ لا زیات په قهر شو؟ ایا د استرالیایي پوځیانو کړنې له قانون سره سمون لري؟ او ایا پر دغو کړنو د نورو کسانو نیوکې بې بنسټه دي؟

په ټوله نړۍ کې د کرونا وبا رامنځ ته کېدو له هماغه پیل راهیسې د استرالیا حکومت څو څو ځله پر چین تورونه ولګول، پرې یې بې دلیله نیوکې وکړې او له امریکا سره په ګډې توطیې سره غواړي چې وښیي چین د کرونا وبا سرچینه ده او په دې اړه یې د ځانګړې نړیوالې پلټنې غوښتنه کړې. که څه هم چیني حکومت بیا بیا له دې سره خپل مخالفت څرګند کړی، خو استرالیایي حکومت له چین سره د خپلو اړیکو له خرابولو سره سره خپلو کړنو ته دوام ورکړی دی. دوی په سیاسي ساحه کې د چین په مقابل کې سرسخت دریځ څرګندوي، خو له بلې خوا هم غواړي چې له چین سره سوداګریزې راکړې ورکړې پیاوړې کړي. د چین پر ضد له سپکاوي او دښمنۍ ډکې خبرې کوي او پر ضد یې تګلارې پلې کوي، خو لا هم غواړي چې پر چین خپل تولیدات وپلوري او له دې لارې له چینایانو څخه پیسې وګټي. په داسې حال کې چې د چین او استرالیا تر منځ اړیکې له یوې مودې راهیسې ډېرې خرابې شوې، د استرالیا صدر اعظم موریسن د نومبر د ۲۳مې په شپه له یو برېتانوي فکري ارګان سره په یوه ویډیویي غونډه کې له چیني حکومت سره د خبرو اترو غوښتنه کړې او په قصدي توګه یې خپله مهرباني وښوده. خو له دې غوښتنې یوه اونۍ وروسته یې خپله څېره بېرته بدله کړه. کومه د ده رښتینې څېره ده؟


د چین د بهرنیو چارو وزارت بلې ویاندې هوا چون ینګ داسې وویل چې د افغانانو ژوند د نړۍ د نورو خلکو په شان ستر ارزښت لري. نو هغه څوک چې په افغانستان کې د ولسي وګړیو په وژلو او شکنجې سره یې بې رحمه او وحشي جرمونه کړي، باید له افغانانو څخه بښنه وغواړي. چینایان چې د افغانانو نیک ګاونډیان او وفادار دوستان دي، پر دغه ډول جرمونو کلکې نیوکې کوي، د افغانانو پر وژنو خواشیني څرګندوي، خو له ډار اچوونکو څخه بښنه نه غواړي.

د یادونې وړ ده، ځوان انځورګر چې یاد شوی کارتوني انځور یې جوړ کړی، د چین په یوه ټولنیزه رسنۍ کې څرګنده کړه چې هغه به په دې اړه یو بل انځور هم جوړ کړي.

## وحید عمر: طالبان د ډېر امتیاز ترلاسه کولو په موخه پر جګړه تمرکز کوي

په ستراتېژیکو چارو کې د ولسمشر غني ځانګړی سلاکار وحید عمر وایي، افغان حکومت د سولې خبرو مخه نه ده نیولې، بلکې داسې یوې ډلې ته یې چې چمتو نه ده موږ د یو دولت په توګه ومني، امتیازات ورکړي دي.

نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي: «په ټوله نړۍ کې به هېڅ یو حکومت داسې یوې ډلې ته امتیازات نه وي ورکړي.» هغه زیاته کړې چې طالبان د ډېر امتیاز ترلاسه کولو لپاره د تاوتریخوالي پر زیاتېدو تکیه کوي.




وحید عمر یادې څرګندونې وروسته له هغه کوي چې په دې وروستیو :ې نیویارک ټایمز ورځپاڼې په خپل راپور کې ویلي وو چې ولسمشر غني او هغه ته نږدې کسان د سولې خبرې له خنډه سره مخ کوي. یادې ورځپاڼې ویلي وو، که څه هم په بین الافغاني خبرو کې رامنځته شوی ځنډ روانه میاشت مات شوی، خو په وینا یې، ارګ بیا هم له دغه پرمختګ څخه انکار کړی دی.

بلخوا وړمه ورځ د ولسمشر غني ویاند صدیق صدیقي هم د نیویارک ټایمز ورځپاڼې راپور ته په غبرګون کې وویل چې ولسمشر غني د سولې بهیر مخه نه ده نیولې، بلکې په وینا یې د سولې مبتکر، معمار او پیلوونکی دی.

هغه ویلي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مذاکراتي ټیمونو ترمنځ د مذاکراتو د طرزالعمل پر ۲۱ مادو توافق شوی او په وینا یې، د طرزاالعمل مقدمه زیات وضاحت ته اړتیا لري او د بحث په حال کې ده.

دا څرګندونې وروسته له هغې کېږي چې روانه اونۍ د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو مذاکراتي ډلو د مذاکراتو د طرزالعمل پر ۲۱ مادو د توافق خبر وکړ، خو په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند بیا وویل چې د طرز العمل پر مقدمې هم هوکړه شوې ده.


په قطر کې د افغان حکومت او طالبانو د مذاکراتي ډلو ترمنځ مخامخ مذاکرات د تېرې سپټمبر میاشتې پر ۱۱مه پرانیستل شول، خو تر دې مهاله پر کاري طرزالعمل د اختلافاتو له امله پکې د پام وړ پرمختګ خبر نه دی ورکړل شوی.

## جرمني: له افغانستانه د ناټو ځواکونو ایستل باید په مشخصو شرطونو پورې تړلي وي

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هایکو ماس وایي، ناټو باید تر ټاکلي وخت مخکې له افغانستانه د خپلو ځواکونو په ایستلو سره د سولې خبرې له ستونزو سره مخ نه کړي.

نوموړي دا خبره د ناټو د نورو غړیو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو تر غونډې مخکې کړې ده. د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، ماس ویلي، د ناټو د متحدینو په توګه موږ باید دا مسئله یقیني کړو چې په افغانستان کې د نورو پوځیانو کمېدل په مشخصو شرطونو پورې وتړو.

هغه له افغانستانه د ناټو ځواکونو په بېړه وتلو په اړه ویلي، ناټو دې د سولې خبرې له ستونزو سره نه مخ کوي.



د نوموړي په خبره، په افغانستان کې د شویو پرمختګونو د خوندیتوب لپاره راته پکار ده چې له هر بېړني اقدام څخه ډډه وکړو.

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر په افغانستان کې د سولې له روان بهیر سره د ناټو تر مشرۍ لاندې ماموریت په چوکاټ کې د ځواکونو د احتمالي کمېدو په اړه دغه اندېښنه داسې مهال راپورته کوي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پرېکړه کړې چې د را روان ۲۰۲۱ ز کال د جنورې تر نیمایي پورې به دوه زره امریکایي سرتېري له افغانستانه وباسي او شمېر به یې دوه نیم زرو ته راکم شي.

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر همدارنګه ویلي، دا غوښتنه له خپلو متحدینو د دې لپاره کوي، چې وضعیت ښه وڅېړي او وګوري چې ایا له افغانستانه د نورو سرتېرو د ایستلو لپاره شرایط څومره اماده دي، څو د سولې د بهیر پر وړاندې د ناسم پیغام ورکولو مخنیوی وشي.

د جرمني د بهرنیو چارو د وزیر تر دې څرګندونو مخکې د ناټو عمومي منشي ینس سټولټنبرګ هم وړمه ورځ اندېښنه څرګنده کړې وه او ویلي یې وو، په داسې حال کې چې متحده ایالتونه غواړي یو زیات شمېر سرتېري له افغانستانه وباسي، دغه پوځي تړون په یاد هېواد کې د خپلې راتلونکې په اړه له یوه مبهم حالت سره مخ دی، هغه هم په داسې یوه وخت کې چې د طالبانو او د نورو سخت دریځو ډلو بریدونو زور اخیستی دی.

سټولټنبرګ د ناتو د بهرنیو چارو وزیرانو تر غونډې مخکې په بروکسل کې په یوه خبري غونډه کې پر دې ټینګار وکړ چې د ناټو غړي که هره پرېکړه کوي، باید په ګډه او سنجول شوې توګه یې وکړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر دویمه | ٦٣٩مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٥ | ١٦ | ۱٥ | ١٤ | ۲۳ | ۱۲ |
| ۲ | ۳ | ٥ | ۲ | ۸ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ٠٥:١٤ | لمر ختل ٠٦:٤٢ | ماسپښین ١١:٤٣ | مازیګر ٠٢:٢٥ | ماښام ٠٤:٤٤ | ماخوستن ٠٦:١٣

## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له یو میلیون او ۴۷۷زرو واوښت

۳

## ملګري ملتونه: راتلونکی کال ښايي په نړۍ کې د اړمنو کسانو شمېر ۴۰ سلنه نور هم لوړ شي

ملګرو ملتونو د راتلونکي کال لپاره د ۳۵ میلیونو ډالرو بشردوستانه مرستې غوښتنه کړې ده.

یاد سازمان ویلي چې د کرونا وبا له امله په نړۍ کې په میلیونونو انسانان له بېکارۍ او لوږې سره مخ شوي دي. د دغه سازمان په خبره، ښايي په راتلونکي کال کې بشري مرستو ته د اړمنو شمېر تر ۴۰ سلنې لوړ شي؛ ځکه چې په وینا یې، روان کال ته په کتو، کرونا وبا د ځاني زیانونو سربېره خلک له سختو اقتصادي ستونزو سره هم مخ کړي او ښايي دا شمېر نور هم لوړ شي.

یاد سازمان دغه راز ویلي، ممکن د روانو جګړو له امله د افغانستان، یمن او سوریې وګړي زیانمن شي او ممکن یو شمېر هېوادونه یو مخ له لوږې سره مخ شي، نو اړتیا ده چې مرستندویه هېوادونه د مرستې لاس ور وغځوي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې هم یاد سازمان خبرداری ورکړی و چې په نړۍ کې د کرونا وبا له خپرېدو وروسته میلیونه انسانان له سختې لوږې سره مخ شوي او که مرستندویه ډلې او هېوادونه په دې برخه کې اقدام ونه کړي، ښايي بشري ناورین رامنځته شي.

## راپورونه: امریکايي بې پیلوټه الوتکو د یوه قوماندان په ګډون د سپاه پاسداران څلور غړي وژلي



د راپورونو له مخې، امریکايي بې پیلوټه الوتکو د عراق او سوریې ترمنځ په ګډه پوله د ایران د سپاه پاسداران یو لوړپوړی پوځي او د هغه درې ساتونکي وژلي دي. عراقي چارواکو هم دغه راپورونه تایید کړي، خو زیاتوي چې په دې نه دي بریالي شوي چې د وژل شوي لوړپوړي پوځي هویت تایید کړي. بلخوا عرب رسنۍ بیا وايي چې دغه کس مسلم شهدان نومېده او په سوریه کې یې د ایران د سپاه پاسداران په ماموریت کې مهم رول درلود. دغه پېښه داسې مهال کېږي چې څو ورځې وړاندې د ایران د اټومي انرژۍ رییس هم د دغه هېواد پلازمېنې تهران ته نږدې په یوه برید کې ووژل شو. یادو پېښو په سیمه کې ناندرۍ را ولاړې کړې دي. ایران یې د امریکا او اسراییلو کار بولي، خو یادو هېوادونو بیا د ایران دا تورونه رد کړي دي.
تازه ایران ادعا کړې چې د دغه هېواد د اټومي چارو ساینسپوه محسن فخري زاده، د اسراییل او مجاهدین خلق سازمان په واسطه په یو ډول نویو او پېچلو عملیاتو کې وژل شوی دی.
د ایران د ملي امنیت د شورا رییس علي شمخاني ویلي: «عملیات ډېر پېچلي وو او په الکترونیکي تجهیزاتو شوي. په صحنه کې هېڅوک حاضر نه وو، خو نښې نښانې شته.» تر دې وړاندې فارس خبري شبکې رپوټ ورکړی و چې په دغه برید کې له یوه اتوماتیک ماشیندار څخه کار اخیستل شوی چې پر یو موټر باندې تړل شوی و او له لرې څخه اداره کېده.


## روند گزارش دهی گروهی برنامه‌های نامزد وزیران به ولسی جرگه پایان یافت



روند گزارش دهی گروهی برنامه‌های نامزد وزیران به ولسی جرگه دیروز پایان یافت. در آخرین روز این روند، نامزد وزیران احیا و انکشاف دهات، صحت عامه، اقتصاد، معارف، امور سرحدات و قبایل و نیز نامزد رئیس بانک مرکزی با برنامه‌های شان را به مجلس گزارش دادند.
در همین حال، برنامه‌های برخی از نامزد وزیران با مخالفت‌ها و نیز سر وصداها در ولسی جرگه همراه شدند و در نهایت تنش لفظی میان برخی از قانون گذاران سبب شد که پخش زنده نشست مجلس دو بار قطع شود. خدیجه الهام، عضو ولسی جرگه در این باره گفت: «هیچ کس حق نداره که تالاره به گروه بگیره و یک وزیر صاحب ره در داخل تالار بی عزت بسازه.»
خان محمد وردک، عضو دیگر این جرگه گفت: «تالار ما به بازار دست فروشی تبدیل شده است، ملت بر ما قضاوت میکند.»
نامزد وزیر احیا و انکشاف دهات گسترش برنامه میثاق شهروندی در یک صدو بیست و سه ولسوالی را مهمترین برنامه سه سال آینده خود می داند. اما نامزد وزیر اقتصاد می‌گوید که از بهر بهبود اقتصاد و کاهش فقر در بخش جذب کمک‌های خارجی بیشتر تلاش خواهد کرد.
ارایه خدمات بهتر صحی و از جمله مبارزه با ویروس کرونا، برنامه‌های نامزد وزیر صحت عامه اند. نامزد وزیر معارف هم می‌گوید که برای بلند بردن کیفیت و اصلاحات در نظام آموزشی کشور کار خواهد کرد.
نامزد وزیر امور سرحدات و قبایل می‌گوید که، برای انسجام اقوام در کشور تلاش خواهد کرد. نامزد رئیس بانک مرکزی نیز برنامه‌هایش را در پنج بخش خلاصه کرد.


## ژوند

## دغه څه مو د ماشوم ونې په لوړېدو کې مرسته کوي



لوړ قد د طب له مخې د روغتیا نښه ګڼل کېږي. جینونه د کوچنیانو د قد په لوړولو کې ستره ونډه لري، خو دا یوازینی فکتور نه دی، بلکې نورې اغېزناکې لارې چارې هم شته چې د کوچنیانو قد ورسره لوړېدای شي. ډېرې بېروني عوامل لکه د ژوند شرایط او غذايي رژیم د کوچنیانو د قد په لوړولو کې ډېر زیات اغېزناک رول لري. د مور شیدې د کوچنیانو لپاره په لومړنیو ٦ میاشتو کې بشپړ او غوره خواړه دي، خو تر ٦ میاشتو وروسته میندې کولای شي، چې خپلو کوچنیانو ته له شیدو سره سره خواړه هم ورکړي. هر کوچني ته باید تر درې کلنۍ پورې په ورځ کې ٥ یا شپږ ځلې بېلابېل خواړه لکه د مور شیدې، ژېړې سبزیانې، شین کدو، خرما، الوبالو، زردالو او داسې نور ورکړل شي. که چېرته مو کوچنی پر ناروغۍ اخته شوی و، نو خواړه یې نور هم زیات کړئ، ځکه چې ماشومان له عادي ناروغیو سره هم ډېره انرژي مصرفوي او بدن یې ډېر مواد له لاسه ورکوي.

## څلوېښت قدمه پلی تګ او د هغه ګټې



یوې نوې څېړنې ثابته کړې چې ۴۰ قدمه پلی تګ له نورو ډېرو روغتیايي ګټو سربېره انسان ځوان، روغ او غښتلی ساتي. د دې څېړنې پر اساس هره ورځ ۴۰ قدمه پلی تګ د ورزش په موخه انسان روغ، ځوان او غښتلی ساتي. ډېر عمر لرونکي کسان چې دغه عادت یې خپل کړی، په ۷۰ کلنۍ کې هم د غښتلتیا احساس کوي.
۴۰ قدمه پلی تګ نورې ډېرې ګټې هم لري او انسان له ډېرو بېلابېلو ناروغیو ژغوري، خو د امریکا په کلوراډو پوهنتون کې شوې دغه نوې څېړنه ښيي چې پلی تګ د هغو کسانو لپاره هم خورا ګټور دی، چې عمرونه یې خوړلي دي؛ ځکه په لوی عمر کې هم پلی تګ د انسان د بدن مقاومت ډېروي او د ناروغیو په مقابل کې یې قوي ساتي. د څېړنې پر بنسټ کوم سپین ږیري چې ۴۰ قدمه پلی تګ کوي، نسبت هغو مشرانو ته چې دغه ورزش نه کوي، ډېر غښتلي وي او ناروغۍ پرې ژر غلبه نه کوي. څېړنو ثابته کړې، هغه کسان چې پلې ګرځي، وینه یې په جریان راځي او له شکر ناروغۍ په امن کې وي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515